محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۰۳/۲۶

# مد و جزر اسلام

## د مولوي محمد سرور واصف قندهاري لږ پېژندل سوی اثر

مولوي محمد سرورخان واصف قندهاری( ۱۳۲۷ هـ ق =۱۹۰۹ع شهيد) په افغانستان کي د حبيبيې مدرسې يو وياړلی استاد، ليکوال او شاعر ـ د لومړي مشروطيت د خوځښت د تاداو ايښوونکو په کتار کي د سر سړی او مشر او دغه راز د حق د لاري سربښندونکی مبارز شهيد وو.ددوی کورنۍ دافغانستان په سياسي تاريخ کي دنامه ښتنان شخصيتونه درلودلي او ټول ئې دسربښندونکو ملي مبارزينوپه نامه پېژندل سوي دي . ددوی دکورنۍ دمشر نيکه زين العابدين الکوزی پلرنۍ مېنه دکندهار ولايت دارغسان اولسوالۍ په بالاژړه کي وه او مشران ئې وروسته دکندهار ښارته راغلي او همدلته دالکوزوپه کوڅه کي ميشت سوي ول. دزين العابدين الکوزي د دوو زامنو(آزادخان او محمدعظيم خان) اولاده ټول دعلم وفضل ښتنان او دافغانستان په ملي خوځښتونوکي دسر خلک ول. دآزادخان الکوزي زوی مولوي احمدجان چي په (تاجر) سره مشهور وو، دامير عبدالرحمن خان د پاچهۍ پروخت په کابل کي اوسېدئ اودخپل عصر له وتلوعالمانو په ډله داحترام وړشخصيت وو. امير ورته په درنه سترګه کتله مولوي احمدجان داساس القضاة په نامه دروندااثر د همدغه اميرپه غوښتنه کښلی دئ . اساس القضاة په ۱۳۰۳ هـ ق کال دصفرالمظفرپر يوولسمه دکابل دارالسلطنة په مطبعه کي چاپ سوی دئ. دنسخي خطاط ئې ميرزاعبدالرزاق دهلوي دئ. ددغه کتاب له لوستلوڅخه څوک دمولوي احمدجان تاجر دعلم اوپه قضايي چارو کي دشريعت داحکاموپه باب دهغه دتبحراندازه لګولای سي. مولوي احمدجان تاجر په فارسي ژبه شعر هم وايه او مردف دېوان ئې درلود چي اوس لږ موندل کېږي. قاري عبدالله خان ملک الشعراء د اروانښادتاجرله قلمي دېوان څخه يو اوږد نظم دکابل مجلې ددوهم کال په يوولسمه ګڼه ( ۳۹ مخ) خپورکړی دئ چي"منتخبات نفيسه" عنوان ئې ورته ټاکلی دئ. ددغه نظم چي دحق سبحان عزوجل په حمد کي ويل سوی دئ، دسر څوبيته داسي دي :

ای ز جود تو گنبد خضرا — بی ستون و طنابها برپا
ذره نور تو رسیده به خور — شد ضیابخش خطه غبرا
قطره یافت بحر از کرمت — که زند موج لؤلؤ لالا
از شمیم تلطف عامت — شد معطر دماغ باد صبا
کرد پیدا ، ز جلوه نورت — موسی آسمان ید بیضا
نفخه ناز روح پاک تو یافت — شد شفابخش مقدم عیسا
نیست موجوددرزمین وزمان — غیر ذاتت بدیده بینا
یک وجودی وگونه گونه شدی — جلوه گر در مرائی اشیا
متجلی شدی بکسوت خاک — یافتی نام آدم و حوا
گاه گشتی سوار ناقه ناز — بنشستی به هودج لیلا
گه زدی جامه صبوری چاک — همچو مجنون بعالم سودا
.................................... — ....................................

(الخ)

د مولوي احمدجان تاجر درې زامن ( مولوی محمدسرورخان واصف، سعدالله خان او عبدالرحمن خان)او يو وراره عبدالقيوم خان په افغانستان کي دلومړي مشروطيت دمخکښانوڅخه ول او مولوي واصف،سعدالله خان او عبدالقيوم خان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د وخت دامیر،سراج الملة والدین په حکم دوطندوستی په تورپه توپ کي والوزول سول او عبدالرحمن خان په ۱۳۲۷ هـ ق کي دشیرپوررزندان ته واچول سو اوهورې وفات سو. دشهادت پروخت دمولوي واصف له خولې هغه ویل سوې رباعي چي توپ ته د تړلو پر وخت ئي ویلي وه، ترننه لاهم د وطنپالو مبارزینو د قربانۍ له پاره د الهام منصوري چیغه ده:

روزیکه شــــوداذالسماء فطرت
وندرپی آن اذالنجـــــوم کدرت

من دامن توبگیرم اندر عرصات
گـــــویم صنما بای ذنب قتلت

مولوي واصف په پښتواوفارسي شعر وایه او یوکتاب ئې د(تاریخ ادریسیان وحمودیان وموحدین افریقای شمالی) ئې له عربي څخه ترجمه کړی دئ چي وایي خطي نسخه ئې دافغانستان په ملي آرشیف کي خوندي ده .(جنبش مشروطیت در افغانستان ـ صـ ۱۹ چاپ ۱۹۹۹ع)
مولوي واصف د" مد و جزر اسلام" په نامه یو فارسي مسدس هم ویلی دئ چي یادونه ئې زموږ محققینو کړې ده خو پخپله اثر ناپېژندلی یا لږ پېژندلی پاته دئ. دا مسدس چي یو سلو پنځه شپیته بنده لري او د عروضو استادانو ئې بحر" متقارب مثمن سالم" بللی دئ، مولوي واصف قندهاري د خپل معاصر دانشمند او د متحد هندوستان د اردو شاعر مولانا الطاف حسین حالي د" مسدس حالی"په اقتفاء ویلی دئ.
مولانا الطاف حسین حالي ( ۱۸۳۷ ـ ۱۹۱۴ع) په هندوستان کي د اردو ژبي مشهور شاعر، په فارسي او اردو ژبه د ډېرو آثارو څښتن او نقاد لیکوال تېر سوی دئ. دی د خواجه ایزوبخش زوی وو او د نسب سلسله ئې دده د خپلي لیکني له مخي د هرات پیر خواجه عبدالله انصاريرح (۱۰۰۶ ـ ۱۰۸۸ع ) ته رسېدله. مولانا الطاف حسین حالي په شاعري کي د میرزا غالب (۱۷۹۷ ـ ۱۸۶۹ع) شاګرد ګڼل سوی دئ.مولانا حالي په پاني پت کي زېږېدلی او په هماغه ځای کي وفات سوی دئ. پاني پت د هندوستان د هریانه صوبې یو ښار دئ چي د تاریخ په اوږدو کي د سترو جګړو ډګر ګرزېدلي وو او د ډېرو سوبمنو او سالارانو سرونه پکښې خوړل سوي ول.
مولانا الطاف حسین په اردو ژبه یو اوږد مسدس لیکلی دئ چي مد و جزر اسلام نومېږي او د " مسدس حالی" په نامه څو واره چاپ سوی هم دئ. دوهم وار چاپ ئې چي ما کتلی دئ، د ۱۹۱۰ع کال په اکتوبر کي د دهلي له مجتبایي مطبعي څخه خپور سوی دئ. په دې مسدس کي د اسلام د مبین دین تر راتګ پخوا د عربو د جاهلیت دورې حالات او وروسته د اسلام په راتګ سره ددغه دین د فیوضاتو له اسیته د اسلامي نړۍ د " شاندار ثقافت" پېژندنه او وروسته بیا د مسلمانانو د مادي او معنوي انحطاط بیان سوی دئ. ددې مسدس خپرېدنه دونده (دومره) پراخه وه چي د سر سید احمد خان ( ۱۸۱۷ ـ ۱۸۹۸ع) په قول د هند په نیمه وچه کي تر قرآن عظیم الشان را وروسته بل اثر په دغه اندازه زیات خپور سوی نه دئ.
د ښاغلولوستونکو د معلوماتو له پاره به ددې مسدس لومړي او وروستي بندونه دلته را نقل کړم:

کسی نے یہ بقراط سے جا کے پوچھا
مَرَض تیرے نزدیک مہلک ہیں کیا کیا
کہا دکھ جہاں میں نہیں کوئی ایسا
کہ جس کی دوا حق نے کی ہو نہ پیدا
مگر وہ مَرَض جس کو آسان سمجھیں
کہے جو طبیب اس کو ہذیان سمجھیں

---

غنیمت ہے صحّت علالت سے پہلے
فراغت، مشاغل کی کثرت سے پہلے
جوانی، بڑھاپے کی زحمت سے پہلے
اقامت، مسافر کی رحلت سے پہلے
فقیری سے پہلے غنیمت ہے دولت
جو کرنا ہے کر لو کہ تھوڑی ہے مہلت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په وروستي بند كي هغه صحيح حديث ته اشاره سوي ده چي فرمايي:
"اغتنمْ خمسًا قبل خمسٍ شبابَك قبل هرمكَ وصحتَك قبل سَقمِكَ وغناكَ قبل فقرِك وفراغَك قبل شغلِك وحياتَك قبل موتِكَ".
لكه دمخه چي مي هم وويل ،مولوي محمد سرورخان واصف د "مسدس حالى" په اقتفاء يو اوږد مسدس ويلي دئ چي لاسكښلی متن ئي زما مخ ته همدا اوس پروت دئ. دا متن په ۵۶ مخونو كي ځای سوی او هر مخ ئي په متناوب ډول دري دري بندونه لري. د متن د كاپي كېدو نېټه د چارشنبي ورځ ۱ / ۵ / ۳۷ ښوول سوې ده. په دغه نېټه كي د هجري قمري يا هجري شمسي يادونه نسته.
مسدس د جاهليت د زماني په تشريح سره پيل كېږي ( اته بنده)، بيا د"ظهور آنحضرت ص" تر سرليک لاندي حالات راځي ( شل بنده)، تر هغه وروسته " وفات آنحضرت ص و ذكر خلفای راشدين رض" زمانه راته ښيي ( اته ويشت بنده)، ورپسي " انتهای دورۀ خلافت و آغاز فِتَن" راته ښيلوي او تر خپلي زماني پوري د مسلمانانو بې لارى، غفلت، بې عدالتى، د مدنيت له كاروانه وروسته پاته والى او نور مصائب راته بيانوي ( ۱۰۲ بنده) او په پای كي يو مناجات لري ( نهه بنده) .

دغه مسدس تر بسم الله وروسته داسي پيل سوی دئ:

بر آفاق و گيتى پـــــــراگنده ظلمت نهان خلق در ظلمت و جهل و غفلت
نه مرعى قـــــوانين نه نافذ سياست نه فكر شــــــــريعت نه پاس طريقت
گهى گرم در بزم كــــوكب پرستى
گهى غرق در بحر غوغاى مستى

گروهى مُصدِّق بيزدان و اهرمن پرستنده و عـــــــابد نارِ گلخن
بـــه آتشكده كرده مأوا و مسكن به چــاه غوايت بسى گشته آون
ستاره گهى با خدائى گرفتن
فرستندۀ ابر و بارانش گفتن

د" ظهور آنحضرت ص" د برخي پيل او پای ئي داسي دئ:

خـــداوند دانا و عـــــلاّم مـــــطلق چو ديد آن زبون حال برگشته رونق
كه گشته ضلالـــــت بارواح ملصق تراويد ســـــــــرچشمۀ غيرتِ حق
نمودار شــــــد نور حق را تجلى
درخشيد از طرف فاران بطحى
++++
تواضع،سخاوت،تحمل،عدالت شجاعت،اُخوّت،مروّت، قناعت
تعفف،ورَع،جود و تقوى و همت صفا،علم و حِلم و وقار و امــانت
فروغ همان دوحۀ پاک بودند
منشهای آن شاه لولاک بودند

د " وفات آنحضرت ص و ذكر خلفای راشدين رض" د سر او پای بندونه په دې ډول دي:

چو شد حاصل اســـلام را عز و تمكين پذيرفت تــــــــــكميل و فرّ ملت و دين
بر اســــــلام اتـــمام و انــعام تسكين شد و گشت شادان همى قلب غمگين
پيمبر به حكم قضاى الهى
شتابيد سوى رضاى الهى
++++
يكى زان ميان گفتش اى شاه عادل باحسان و تقوى و انـــصاف كامل
اگر ديدمى عيب تو در شـــــمايل به شمشير ميكـــردم اصلاح و زائل
ســــپاس خــــدا گفت از صدق نيّت
كه مصلح بوّد چون تو در دين حضرت ص

د" انتهای دورۀ خلافت و آغاز فِتَن" برخي پيل او څو بندونه دا شان دئ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

چو آمدزمان خــــلافت به پایان	هم آن دورۀ عهد شاهان ذیشان
تنزل بیاورد ره ســـــوی دوران	به تدریج ره یافت در اهلِ ایمان
رسیده بدین عهد و شد قلزم آسا
تلاطــم زنان دمبدم مـــــوج افزا
چو شد نوبت مــا درین عهدگانی	شد این عـــــهد را نوبت زندگانی
رُخ آورد در ملک مـــا عیش رانی	اصول سلف گشت متروک و فانی
رســـوم بـــزرگان دین رفت از ما
هم اخلاق اسلاف پس ماند از ما

.........

گرفتش چنان گــــرد باد شقاوت	که گم کرده شهراهِ امن و سلامت
تعصب زدش پرده ای بر بصارت	شـــــد آواره اندر بیابان وحشت
به تیه غمی ماند پزمان و حیران
به صحرای ادبار افتان و خیزان

...

پراگنده شـــد تخم کین در طبایع	غرور و حسد گشت در خلق شایع
شد آداب و اخـــلاق یکبار ضایع	نفاق و حسد گشت از شــرق طالع
نه الفت بجا ماند، نی آشنائی
بدلها درافتاد بغض و جدائی

...

تـــوانگر ندارد غـــــم بینوایان	ضعیف از جفای قوی گشت نالان
گدا نام حق را به فلسی فـــروشان	ولی کس نگیرد چنین مــال ارزان
نه این را تعفف نه او راست همت
یکی کاهل وآن دگـــر گرم غفلت
بود خانه اش گرچه رشک گلستان	زِ نـــور قـــنادیل و تاب چراغان
نپرسد زِ همسایۀ خـــــــانه ویران	که شب چون گذشتن میان شبستان
همین طرز همدردی ماست با هم
طریق مــواخات بین راست با هم
شده شرع و دین جمله مغلوب عادت	فـــروض و سنن تابع رســـم و بدعت
باتباع عــــادت گذارند طـــاعت	به تبع رســــــوم است شغل عبادت
بیامیخت رســـم و عبادات با هم
که تمیز حق گشت مستور و مبهم
نه تهذیب اخلاق و طــــرز تمدن	نه تعلیم و کسب کـمالات روشن
هنرها کزان دهر شد همچو گلشن	فضائل که عالم شـــده زان مزّین
درین خطه معدوم و گمنام یکسر
و گر هست مذموم و بدنام یکسر

...

به رشوت ستانی است بیباک آنسان	که پــندارش مــــرده ریگ نیاکان
خیانت بــــــود وِرد روز و شب آن	برون رفته از ره به اغـــوای شیطان
نه ترس از خداوند نه شرم از پیمبر
نه پاس حــــقوق شـــــهِ دادگستر

...

نه آگاهی از عالـــــــم کیمیائی	نه تذکار ابـــــحاث جغرافیائی
معارف که از نظم ونسق و کمائی	شکست دول را بــــود مومیائی
بود نزد ایشان چو زهر هلاهل
اگر هست تـــریاق دانند قاتل

...

بر اهــــل هنر آفتی اوفتاده	بلا بر رخ شـــان دری بکشاده
بهر جا بود عـــاقلی پاکزاده	بحاجت بدرگاه ناکس سِتاده

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

کشد طعنهٔ جــانگداز لئیمان
بود منت سفلگان و خسیسان
...
زِ فن جدیدش اگـــــــــر آوری یاد        بنفرت کند طــعن و تشنیع بنیاد
من و کار کفار و این ظلم و بیداد        کی این پشه ام بود زِ آبا و اجداد
تجاوز ز کار پدر می نشاید
هرآنگونه او بُد مرا نیز باید
...
کـــــمالات حــــــالی فنون جدیده        علـــوم بدیعه رســــوم عــــــدیده
درین خـــطه کس زان نشانی ندیده        نه در گوش کس زان صدایی رسیده
چو بازیچهٔ کـــودکانش شمارند
نه میلان شوقی در اجراش دارند
...
خطیب است آن گونه بیباک و خودسر        که پندش نشان نیست موجود در سر
معین یکی خـــطبه بگـــرفته از بر        که دائم چو طوطیش ســـــازد مکرر
نخواند مــــرتب مضامین حکمت
که مر سامعین را دهد پند و عبرت
...
عجب نیست از خامهٔ این سیه رو        که نقشی ز مـولا نهادست یکسو
شود باعث هــــمت و خُلق نیکو        بدقت نگاهش کند مـــرد حقجو
ازان کسب غیرت کند قوم افغان
وزان پند و عبرت بگیرو مسلمان

د مناجات شروع او پای ئي داسي دئ:

اللهی! بحق رســـــول مکـــرّم        بآن ســــیّد و فــــــخر اولاد آدم
که خود برگزیدیش از جمله عالم        نمودیش با نعمت و جـــود منعم
لقب رحـــــمت عالمینش نهادی
درِ فیض رحمت برویش کشادی
+++
چه خـــوش گفت دانا حکیم سخنور        بسلک بلاغت چه ســان سفت گوهر
که رحمت بجان بادش از طرف داور        لبش باد از ابر احــــسانِ حــــق تر
خــــدا را بر آن بنده بخشایش آید
که خلق از وجودش در آسایش آید

(انتها)

ما ته که پاک خدای نور ژوند او فراغت راکړی وو، زه به د شهید مولوي محمد سرور خان واصف دغه راوېښوونکی او لاربښوونکی مسدس په بشپړه توګه له تحشیو او توضیحاتو سره خپور کړم.

محمد معصوم هوتک
آشاوا ــ کاناډا
۲۶ مارچ ۲۰۲۰ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له زالیرلو مخکې په ځیر و لولئ